# دا د الله تعالی په نېز تر ټولو بد مخلوق دي

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې: ام سلمې رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د حبشې په خاوره کې د ماريا په نوم د يوې کليسا يادونه وکړه، نو هغې ورته د هغو انځورنو يادونه وکړه چې په کليسا کې يې ليدلي وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «دا هغه خلک دي چې کله په دوی کې کوم نيک بنده يا نيک سړی مړ شي نو پر قبر يې جومات جوړوي او بيا پکې هغه تصويرونه انځوروي، «دا د الله تعالی په نېز تر ټولو بد مخلوق دي».

[صحيح] [متفق عليه دی]

د مؤمنانو مور ام سلمه رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يادونه وکړه، چې کله هغه د حبشي په خاوره کې وه، نو هلته يې د ماريا په نوم يوه کليسا وليده چې مجسمې، نقشې او انځورونه پکې وو؛ او تعجب يې ورته وکړ! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د دې انځورونو لاملونه بيان کړل؛ ويې فرمايل: دا خلک چې تا يې يادونه وکړه، کله چې پکې يو نيک سړی مړ شي، نو پر قبر يې جومات جوړ کړي او لمونځونه پکې کوي، او دغه انځورونه يې جوړ کړي دي، او دا يې په ډاګه کړه چې د دې کار کوونکی د الله تعالی په نېز بد مخلوق دی؛ ځکه چې دا کار يې د شرک لامل ګرځي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10887

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee